# كله چې مسلمان يا مؤمن اودس وكړي؛ خپل مخ ووينځي، نو له مخ نه يې ټول هغه ګناهونه له اوبو سره وځي چې په سترګو يې کړي وي اويا د اوبو له وروستي ځاڅکې سره-

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: «كله چې مسلمان يا مؤمن اودس وكړي؛ خپل مخ ووينځي، نو له مخ نه يې ټول هغه ګناهونه له اوبو سره وځي چې په سترګو يې کړي وي اويا د اوبو له وروستي ځاڅکې سره-، نو كله چې لاسونه ووينځي، ټول هغه ګناهونه يې له لاسونو څخه له اوبو سره وځي چې د ده لاسونو تيرى کړى وي- او يا د اوبو له وروستي ځاڅکي سره - او كله چې پښې ووينځي، نو هره ګناه يې له اوبو سره وځي چې په پښو يې تر سره کړي وي او يا د اوبو له وروستۍ ځاڅکي سره، تر دې چې له ګناهونو پاک راووځي».

[صحيح] [مسلم روايت کړی]

نبي ﷺ څرګنده کړه چې كله مسلمان يا مؤمن اودس وکړي او خپل د اوداسه پر مهال خپل مخ ووينځي، نو له مخ نه يې ټول واړه ګناهونه چې په سترګو يې کړي وي له توی شويو اوبو اويا اخري ځاڅکی سره وځي، اوکله چې لاسونه ووينځي، ټول واړ ګناهونه يې چې لاسونو کسب کړي وي له اوبو او يا له وروستي ځاڅکی سره وځي، او کله چې پښې ووينځي، ټول واړه ګناهونه چې په پښو يې کړي وي د اوبو اويا له وروستي ځاڅکي سره وځي، تر څو چې د اودس په اخر کې له وړو ګناهونو سپېڅلی راووځي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3284